ملګري ملتونه

A/64/705 –S/2010/127

# عمومي شورا
# د امنیت شورا

توزیع: ټولیز

نېټه: ۱۰ مارچ ۲۰۱۰

اصلي متن: انګرېزي

عمومي شورا
څلور شپېتمه ناسته
د اجنډا ۱۷ موضوع

د امنیت شورا
پینځه شپېتم کال

## وضعیت په افغانستان کې

# وضعیت په افغانستان او پر نړیواله سوله او امنیت باندې یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### I. مقدمه او اجمالي کتنه

۱. دا راپور د عمومي اسامبلې د ۱۸/۶۳ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړه لیک پر بنسټ دی چې په ترڅ کې یې شورا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت تمدید کړ او په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه په هرو درېو میاشتو کې د راپور غوښتنه وکړه. اوسنی راپور په افغانستان کې وضعیت او د یوناما فعالیتونه څېړي چې زما د تیر راپور له خپریدو راهیسې چې د ۲۰۹۹ کال د دسمبر په ۲۸ نېټه په دغه شمېر راپور کې (A 64/613-S/2009/6) وړاندې شوی و. د راپور ورکولو په موده کې، د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په شپږمه نېټه ما د افغانستان په اړه خپل راپور امنیت شورا ته وړاندې کړ.

۲. په تیرو درېو میاشتو کې په افغانستان کې مهم پرمختګونه، لکه څنګه چې په دې راپور کې بیان شوي، د ولایتي شوراګانو د ټاکنو تصویب، د جنورۍ په ۲۸ نېټه په لندن کې د افغانستان په اړه د نړیوال کنفرانس جوړېدل، د امنیتي وضعیت پراختیا او په هیواد کې اقتصادي پراختیا شامل دي. همداراز راپور د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، بشري حقونو او بشري ستونزو په اړه تازه

معلومات وړاندې کوي. د دې جوړښت تر ډېره حده هغه معیارونه تعقیبوي چې زما د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په ۲۲ نېټه (A/64/364-S/2009/475) په پخواني راپور کې پېژندل شوي. او په ضمیمه کې شامل شوي د ټول معیارونو لپاره د پرمختګ شاخصونو د ارزونې لنډیز لپاره بنسټ چمتو کوي. په نهایت کې، د تیر کال په پرمختګونو کې د ځینو سمونونو سره، اوسنی راپور د یوناما د ماموریت د بیا تمدید کولو وړاندیز کوي.

۳. راتلونکی کال ته به د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې د شویو هوکړو له مخې بڼه وکړېږي. د لندن کنفرانس، چې د بریتانیا او شمالي ایرلنډ په کوربه توب او د افغانستان د حکومت، بریتانیا او ملګرو ملتونو په مشرۍ جوړ شوی و، د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د اصلاحاتو پر بنسټ د پلې کولو لپاره د نوېو ژمنو شاهد و، د ولسمشر کرزي د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۱۹ د د ملت جوړونې اجنډا د پرانستې وینا پر بنسټ و. ۷۸ ګډون کوونکو هېوادونو او بنسټونو موافقه وکړه چې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همکارۍ یو نوی پړاو پیل کړي، چې د افغانانو په وړاندې یو لوی رهبري او مسوولیت ګټل کېږي. د انتقال په دې نوي پړاو کې، حکومت به د نړیوالې ټولنې د ملاتړې په توګه د امنیت او پراختیا په برخه کې خپل حاکمیت زیات کړي. د لندن د کنفرانس د پایلو سند د امنیت څخه نیولې تر اقتصادي پراختیا او د حکومتدارۍ څخه تر سیمه ایزو همکاریو پورې په برخو کې د لا زیاتو افغانانو د رهبرۍ په لور ګامونه په ګوته کوي. دغه کنفرانس د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې او له هغو مخالفو عناصرو سره د پخلاینې په اړه هم توافق وکړ چې د تاوتریخوالي د پای ته رسېدو او د افغانستان اساسي قانون ته د درناوي غوښتونکي دي.

۴. د لندن کنفرانس په کابل کې د ۲۰۱۰ کال په پسرلي کې د بل کنفرانس اجنډا ټاکلې وه. دا به د افغانستان د حکومت په کوربه توب د لوړې کچې لومړی غونډه وي چې په دغه کنفرانس کې یې د مشخصو پروګرامونو د وړاندې کولو ژمنه کړې ده.

## II. حکومتدارۍ او د ادارې جوړونه

۵. د ولسمشر کرزي د پرانستې وینا وروسته چې په هغه کې یې د دولت جوړونې د اصلاحي پروګرام په اړه یې خبرې وکړې، وګورئ (۱۳. پاراګراف A/64/613-S/2009/674)، د هغه لومړنی بېړنۍ دنده د حکومت جوړول و. هغې د ډسمبر په ۱۹ مه په رسمي ډول د یوې ښځې په ګډون د کابینې د نوماندانو نوملړ ولسي جرګې ته وسپاره. د جنورۍ د دوهمې نیټې له ناستې وروسته، پارلمان یوازې ۷ تنه کاندیدان تصویب کړل، چې ټول یې نارینه وو، د ۵ اوسنیو وزیرانو: مالیې، کرنې، کورنیو چارو، دفاع او پوهنې، په ګډون. وروسته له هغې ولسمشر د ولسي جرګې له غړو وغوښتل چې په غونډه کې پاتې شي او خپله ژمنۍ رخصتي دې وځنډوي، په داسې حال کې چې هغه نوې نوملړ چمتو کړي و. د جنورۍ په نهمه د ۱۷ وزیرانو نوملړ چې درې یې ښځې وې، وړاندې شو. یوه اونۍ وروسته، د استازو جرګې د یوې ښځې په ګډون اوه نوماندان تصویب کړل او د فبرورۍ د میاشتې تر ۲۰ پورې په رخصت ولاړل.

۶. د ټولو ۳۴ ولایتونو د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پایلې د ۲۰۰۹ کال د نومبر د میاشتې له ۱۲ نیټې څخه د ډسمبر تر ۲۶ نیټې پورې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا تایید شول. د ولایتي شورا د ۴۲۰ څوکیو لپاره ۴۱۸ غړي وټاکل شول. په ټولیز ډول په دغو ټاکنو کې ۱۲۲ میرمنې وټاکل شول. په کندهار او اروزګان کې د ښځینه نوماندانو د کمښت له امله د ښځو لپاره دوه ځانګړي شوي څوکۍ خالي پاتې دي. د مشرانو جرګې غړی هم وروسته له هرې ولایتي شورا څخه وټاکل شول.

7. د جنورۍ په لومړیو کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۰ کال د مۍ ۲۲ نیټه د ولسي جرګې د پارلماني ټاکنو ورځ اعلان کړه. په داسې حال کې چې څرګنده ده چې دا د اساسي قانون له مخې د ټاکنو د ترسره کېدو وروستۍ نېټه ده، د افغانستان حکومت او

نړیواله ټولنه خپله اندېښنه شریکوي چې د مې میاشتې ټاکنې به د ټاکنیزو اصلاحاتو او اړینو اصلاحاتو لپاره کافي وخت پاتې نه وي. د جنورۍ په ۲۳ مه ولسمشر د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د نېټې په اړه د بحث لپاره یوه غونډه رابللې وه، چې زما د ځانګړي استازي په ګډون یو شمیر ملي او نړیوالو برخه والو هم په کې ګډون درلود. بله ورځ، کمیسیون اعلان وکړ چې ټاکنې به د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر تر ۱۸ پورې وځنډول شي. دغه پرېکړه د ټاکنو د قانون د ۵۵ مادې له مخې شوې، چې د امنیتي، مالي او لوژیستیکي دلایلو په ګډون د ټاکنو د ځنډولو اجازه ورکوي.

۸. په داسې حال کې چې د ټاکنو نوې نېټه د ټاکنیز بهیر د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو لپاره د بنسټیزو اصلاحاتو لپاره کافي وخت نه ورکوي، دا فرصت برابروي چې د افغانستان په دننه او بهر کې د ټاکنو د اعتبار د پیاوړتیا لپاره یو لړ غوښتل شوي اقدامات پلي کړي. په دغو اقداماتو کې باید د ټاکنیزو کمیسیونونو او د دارالانشا د غړو ټاکل به په داسې ډول شامل وي چې د هغې خپلواکي، بې پرېتوب او اعتبار تضمین شي؛ د نړیوالو غړو په ګډون د ټاکنیزو شکایتونو د یوه نوي کمیسیون ټاکل، د پراخو مشورو له لارې په سیاسي ډګر کې د باور ډاډمن کول؛ د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د صلاحیت او خپلواکۍ د ساتنې لپاره اقدامات؛ د بیا کتنې په بهیر کې د نړیوالې ټولنې ګډون، چې موخه یې دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې نوماندان د ټاکنو له قانون څخه سرغړونه نه کوي او د هغو کسانو په وړاندې چې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په درغلیو کې ښکیل دي اصلاحي اقدام کوي. په دې برخه کې زه د ټاکنو د بهیر د سموالي او د بې نظمۍ د مخنیوي په برخه کې د ولسمشر کرزي د ژمنو او همدارنګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پرېکړې ستاینه کوم چې د فبرورۍ په څلورمه یې اعلان وکړ چې د راپې ورکولو په مرکزونو کې شاوخوا شپږ زره کسان بیا په دندو نګماري کوم چې د ۲۰۰۹ کال په ترسره شوې ټاکنو کط د پام وړ درغلیو کې ښکیل وو. زما ځانګړي استازي د دغو اقداماتو په اړه له ولسمشر کرزي او نورو اړخونو سره خبرې کړې دي. په هرصورت، ما ولیدل چې د فبروري په ۲۰، ولسمشر کرزي اعلان وکړ چې هغه د فبروري په ۱۷ د ټاکنو قانون د تعدیل فرمان صادر کړ. د نورو بدلونونو تر څنګ په فرمان کې راغلي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون به اوس د ولسمشر له خوا د ملي شورا، مشرانو جرګې او سترې محکمې له رئیسانو سره په مشوره جوړېږي. تر دې مخکې د دغه کمیسیون غړي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، سترې محکمې او یوناما له خوا ټاکل شوي وو. دا اړینه ده چې د ټاکنو پروسې اړوند تصمیمونه د امکان تر حده د ټولو سیاسي جریانونو سره د مشورې په چوکاټ کې ونیول شي، د اپوزیسیون او مدني ټولنې په ګډون، ترڅو د ټاکنیز بهیر خپلواکي او اعتبار تظمین شي.

۹. په حکومت کې اداري فساد هغه اندیښنه ده چې په پرله پسې ډول د عامو خلکو او دولتي چارواکو له خوا برسېره شوې او د اغېزناکو بنسټونو د رامنځته کېدو پر وړاندې لوی خنډ ګڼل کیږي. د جنورۍ په میاشت کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم د دفتر له خوا خپور شوی راپور ښیي چې فساد د افغانانو په ژوند کې تر امنیت هم لوړه درجه کې دی. ولسمشر کرزي په خپله پرانیستونکې وینا کې دې مسئلې ته هم اشاره وکړه او د لندن په کنفرانس کې هم برخه والو د فساد د کمولو یا د مخنیوي لپاره پر څو میکانیزمونو موافقه وکړل. په لویه څارنوالۍ کې له فساد سره د مبارزې ځانګه جوړه شوې او سترې محکمې ته یې دنده سپارلې چې له فساد سره د مبارزې محکمې ته دنده ورکړي چې د دغې محکمې قاضیان د بیا کتنې (تذکیه) بهیر تر سره کړي، په داسې حال کې چې په کابل کې د محاکمو د تجهیز لپاره چمتووالی نیول شوی دی، یو تورن اوس په توقیف کې دی چې محاکمې ته انتظار باسي. په زونونو کې هم د فساد پر ضد محکمې فعالې دي. په هر صورت، د ستونزو کچه تر دې حده ده چې د فساد د ویجاړونکو پایلو د کمولو لپاره د حکومت او نړیوالو شریکانو دوامداره او منظمو هڅو ته اړتیا لري. دا ډول هڅې باید د لومړیتوب په توګه د لندن د کنفرانس د ژمنو په عملي کولو سره پیل شي.

۱۰. د اداري فساد سره د مبارزې لپاره د ځانګړو اقداماتو اړتیا باید د عدلي سکتور د اوږد مهاله مدیریتي جوړښت ته پام واړول شي. د ډیرو افغانانو لپاره رسمي قضایي سیستم شتون نلري. په قضا کې فساد، بې کفایتۍ او د لوړو لګښتونو په اړه اندېښنې د دې لامل شوی چې ډېر وګړي د شخړو د هوارولو لپاره دودیز لارو چارو ته مخه کړي. د لندن په کنفرانس کې ګډونوالو د ملي عدالت په پروګرام کې د وړاندیز شویو اصلاحاتو په اړه خپلې ژمنې یو ځل بیا ټینګار وکړ. په ورته وخت کې د عدلیې وزارت تر څارنې لاندې

د رسمي او دوديزو سيستمونو د ادغام په اړه د پالیسۍ مسوده په دې وروستيو کې بشپړه شوې ده. دا پاليسي بايد که د ګډونوالو لخوا وهڅول شي او په داسې طريقه پلي شي چې د اساسي قانون د حقونو تحقق تضمين کړي، دا به د افغانانو لپاره د عدالت اصول پياوړي او همدارنګه د قانون د حاکميت د تامين په برخه کې د خپل حکومت پر وړتيا باندې د افغانانو باور لا زيات کړي.

۱۱. د محلي حکومتدارۍ د ودې لپاره، د اجراتو پر بنسټ د واليانو لپاره بودجه په ۲۰۱۰ کال د جنوري په مياشت کې د سيمه ايزو ادارو د چارو د عمومي رياست لخوا پيل شو. دا بودجه هر والي ته هره مياشت ۲۵۰۰۰ امريکايي ډالر ځانګړي کوي ترڅو د دوی د اغيزمنتيا لپاره عملياتي تمويل چمتو کړي. د کافي بوديجې نشتوالي د واليانو کارونه له خنډ سره مخ کړي او په ولايتونو کې د کار لپاره د وړ ملکي مامورينو پکار ګمارل ستونزمن کړي دی. تمه کيږي چې په سيمه ييزه حکومتولۍ کې نور پرمختګ د اوږدې مودې ځنډيدلې محلي حکومتدارۍ او پرمختيايي پاليسۍ په پايله کې رامنځته شي. د لومړيتوب پروګرامونو لپاره يو همغږي چوکاټ چې موخه يې د کابل کنفرانس څخه دمخه په سيستماتيک ډول د نړيوالې حکومتدارۍ جوړښتونه پياوړي کول دی، د ځايي ادارو او د خدماتو وړاندې کولو ته اجازه ورکوي.

۱۲. د لندن په کنفرانس کې ولسمشر کرزي د سولې او بيا پيوستون لپاره يو پلان وړاندې کړ چې موخه يې د خبرو له لارې د سولې ټينګول دی. دا پلان دوه موخې لري چې بايد په موازي ډول تعقيب شي: د عادي طالبانو غړي او د دوی د منځنۍ کچې قوماندانانو هڅول چې تاوتريخوالی پای ته ورسوي او د بيا يوځای کيدو رغنده پروسې سره يوځای شي ترڅو دوی وکولی شي د سولې، پايښت لرونکي حکومتدارۍ او اقتصادي پراختيا لپاره له فرصت څخه ګټه پورته کړي؛ او د طالبانو د مشرتابه سره د سولې د ستراتيژيکو خبرو اترو لپاره لاره هواره کړه.

۱۳. د پخلاينې د هرې پروسې بريا په پراخ ملي ملاتړ پورې اړه لري. د افغانستان په اړه دا انديښنه شته چې دا ډول کړنه د هغو بنسټيزو بشري حقونو د له منځه تلو لامل کېدای شي چې په وروستيو کلونو کې رامنځته شوي دي. د خپل پروګرام د ملي ملاتړ د جلبولو لپاره، ولسمشر کرزی پلان لري چې د ۲۰۱۰ کال په پسرلي کې لويه جرګه دايره کړ چې په کې به د ټول هيواد ټولنيز او قومي مشران ګډون وکړي، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د بن د کنفرانس په بهير کې د انزوا احساس کوي. ولسمشر د سيمې پر نورو هېوادونو هم غږ وکړ چې د سولې له هڅو ملاتړ وکړي او د سعودي عربستان پر پاچا يې هم غږ وکړ چې د طالبانو له مشرتابه سره د خبرو د پيل لپاره مرسته وکړي.

۱۴. د ولسمشر پلان د سولې د ملي شورا د جوړولو وړانديز کوي چې د وسله والو مخالفو ډول د بيا يوځای کيدو څارنه وکړي، او همدارنګه د بودجې د تمويل کوونکو پر بنسټ د سولې باور او بيا يوځای کيدو بودجه رامينځته کړي ترڅو د هغو کسانو لپاره کار او مالي هڅونې چمتو کړي چې تاوتريخوالی پريږدي. د لندن په کنفرانس کې د ژمنې تمويل لپاره له ۱۴۰ ميليون امريکايي ډالرو څخه زياته بوديجه ژمنه وشوه. اوس د بيا يوځای کيدو د پروګرام ټول لګښت ۵۰۰ ميليونه ډالره اټکل شوی دی. دا پروګرام تر اوسه د سياسي پروسې له لارې نه دی بشپړ شوی. د بنديزونو له ليست څخه د پنځو طالب چارواکو د نومونو د لرې کولو په اړه د امنيت شورا وروستۍ پريکړه په افغانستان کې د باور رامنځته کولو اقدام په توګه د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) ګڼې پريکړه ليک له مخې هرکلی شوی چې کولی شي د احتمالي سياسي پروسې لپاره زمينه برابره کړي. د باور رامنځته کولو نور اقدامات به د ټولو اړخونو په ګټه وي.

۱۵. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په ۲۶ د ترکيې ولسمشر په استانبول کې د افغانستان او د هغه د ګاونډيانو د سيمه ييزې غونډې کوربه و. د دې ناستې د پای سند، د استانبول د دوستۍ او همکارۍ په اړه د استانبول اعلاميه د آسيا په زړه کې، ټينګار کوي چې يو امن، خوندي، باثباته او سوکاله افغانستان د سيمې د سولې او ثبات يو اړين عنصر دی. ګډون کوونکو هېوادونو د افغانستان د سياسي انتقال او اقتصادي پراختيا لپاره د خپلو مرستو پر دوام ټينګار وکړ. له سيمه ييزې غونډې مخکې، د افغانستان، پاکستان او ترکيې ولسمشرانو د جنورۍ په ۲۴ او ۲۵ نېټې د درې اړخيزې ناستې د يوې برخې په توګه، چې د ۲۰۰۷ کال په اپريل کې پيل شوې وه،

سره وکتل. د درې واړو هېوادونو مشرانو د ترهګرۍ ګواښ ته د ځواب ويلو لپاره د سيمه ييزو ظرفيتونو د لوړولو پر اړتيا ټينګار وکړ او د درې واړو هېوادونو د پوځي او استخباراتي بنسټونو ترمنځ د همکارۍ د دوام په اړه يې پر پخوانيو ژمنو ټينګار وکړ.

## III. ټولنيز اقتصادي پراختيا

۱۶. د افغانستان د ملي پراختيا په ستراتيژۍ کې ټاکل شويو اهدافو ته د لومړيتوب ورکولو لپاره په تېر کال کې هڅې شوي او د هغې پلي کول ښه نتيجه ورکړې ده. حکومت اراده لري چې خپل ساختار له سره جوړ کړي ترڅو د ستراتيژۍ پلي کول ګړندي کړي او په اقتصادي وده تمرکز وکړي. د ستراتيژۍ اړوند ۱۳ کليدي وزارتونه به په دريو عمومي کلسترونو کې تنظيم شي: د کرنې او کليو پراختيا، د بشري منابعو پراختيا، او زيربنا او اقتصادي پراختيا. برخه والو د لندن په کنفرانس کې هم موافقه وکړه چې د حکومتدارۍ په برخه کې بايد څلورم کلسترونه جوړ شي. هر کلستر د يو مخکښ وزارت لخوا رهبري کيږي، کوم چې به د ملاتړو وزارتونو د فعاليتونو همغږي او د لارښوونې مسوليت او واک ولري. د کلسترونو مشرتابه به د کابل کنفرانس ته مشخص پلانونه وړاندې کړي. د مالي وزارت به د ټولو کلسترونو سره همکاري او څارنه وکړي.

۱۷. تمه کيږي چې د اقتصادي پراختيا لپاره د کلستر کړنلارې پلي کول په پرمختيايي پروګرامونو کې د حکومت د همغږۍ د ښه والي لامل شي. د دې نوې کړنلارې د پياوړتيا لپاره، يوناما به خپل فعاليتونه د کلسترونو په اوږدو کې د اغيزمن ملاتړ چمتو کولو لپاره، د مرستو ورکوونکو د همغږۍ په واحد کې د ظرفيت لوړولو او د دې مرستې اغيزمنتيا په کارولو سره تطبيق کړي. دا به افغانانو ته د مشرتابه په سپارلو کې مرسته وکړي: د دې پر ځای چې د ټولو نړيوالو مرستو د همغږي کوونکي په توګه کار وکړي، ماموريت به په تدريجي ډول خپل ځان ته به داسې موقف غوره کړي ترڅو حکومت وکولای شي د خپلې پراختيايي ستراتيژۍ همغږي کړي او د دې ډول نړيوالو مرستو اصلي همغږي کوونکی وي.

۱۸. په ستراتيژۍ کې د ټاکل شويو لومړيتوبونو سره سم، د نړيوالو مرستو د فيصدي زياتوالی او د افغانستان د حکومت له خوا د هغې برابرول يو دوامداره لومړيتوب دی. له دې امله چې ډيری تمويل کوونکي لا هم د خپلو فعاليتونو په اړه حکومت ته معلومات نه ورکوي، دا ناشونې ده چې معلومه شي چې ايا د ستراتيژۍ سره د مرستو په سمون کې زياتوالی راغلی او که نه. د ۲۰۰۹ کال د نومبر په مياشت کې د مالي وزارت لخوا تر سره شوي، د تمويل کوونکي د مالې بيا کتنه چې د ۲۰۰۹ کال د نومبر په مياشت کې خپور شو، د ۳۴ مخکښو ډونرانو څخه يوازې ۱۵ ډونران حکومت ته بشپړ راپورونه وړاندې کړی. څيړنه دا هم يادوي چې په تيرو اوو کلونو کې نږدې ۸۰ سلنه دولتي مرستې له پامه غورځول شوي او د حکومت له لومړيتوبونو سره په سمه توګه نه دې همغږه شوي. په دې وروستيو کې، د همغږۍ د ټينګو هڅو له امله، د بسپنه ورکوونکو په سمون کې لږ زياتوالی راغلی او د افغانستان له وجهي صندوق سره همکاري زياته شوې ده. حکومت له نړيوالې ټولنې څخه غوښتې، چې په راتلونکو دوو کلونو کې د افغانستان د بودجې له لارې د خپلو ټولو مرستو ۵۰ سلنه د حکومت د بودجې له لاري واستوي. د لندن په کنفرانس کې برخه والو د دغه هدف د تحقق ملاتړ وکړ، خو په څرګند ډول يې ژمنې ونه کړې.

۱۹. د دې ترڅنګ، يوناما د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې د پراختيايي مرستو او دولتي لګښتونو پر مساوي ويش ټينګار کړی. د پرمختيايي مرستو لپاره د حکومت ډيټابيس دا ممکنه کوي چې په جغرافيه کې د مرستو رسول تعقيب کړي. له بده مرغه، په ډيټابيس کې د معلوماتو کيفيت ناکافي دی. د مرستو د ارزونې جدي اهميت ته په پام سره، حکومت د ولايت په کچه د مرستو د معلوماتو د ښه تعقيب لپاره د ډيټابيس د ښه کولو لپاره کار کړی دی. په هرصورت، ثابت معلومات ښودلې چې د پراختيايي مرستو لويه برخه په سهيل او ختيځ کې سيمې په نښه کوي، پداسې حال کې چې نورې سيمې د مرستو څخه بې برخه پاتې دي.

۲۰. د افغانستان د سرچينو پر بنسټ د عوايدو راټولول او دوامداره وده د پام وړ پرمختګ کړی دی. د ۲۰۰۹ کال په دويمه نيمايي کې، حکومت د خپلو عوايدو راټولول نږدې ۶۵ سلنه زيات کړل. د پيسو نړيوال صندوق په وينا، په ۲۰۰۹ کال کې د کرنې په برخه کې د پرمختګونو، د مرستو د جريان د زياتوالي او د پرمختللې اقتصادي تګلارې له امله اقتصادي فعاليتونه ۱۵ سلنه زيات شوي دي. په همدې موده کې انفلاسيون کم شوی او د اسعارو بيې ثابته پاتې شويدي. کلنی ناخالص توليد په اوسط ډول ۷ سلنه وده کړې. د دې ودې يوه برخه د نړيوالو فعالينو لخوا د توکو او خدماتو محلي پيرودل کې د سلنې زياتوالي له امله وه. يوناما د نادولتی نړيوال سازمان، د سولې د ګټې امانتي صندوق، سره په ګډه يو کمپاين پيل کړ چې نړيواله ټولنه وهڅوي چې خپل محلي پيرودل لږ تر لږه لس سلنه زيات کړي. د ۲۰۰۹ کال له جون څخه تر جنوري ۲۰۱۰ پورې د معلوماتو پرتله کول ښيي چې د نړيوالو شريکانو لخوا راپور شوي محلي پيرودونه ۶۱ سلنه زيات شوي.

۲۱. برسېره پردې، افغانستان د ۲۰۰۹ کال په دويمه نيمايي کې د بهرنی مستقيمې پانګونې له زياتوالي څخه ګټه پورته کړه. د پيسو نړيوال صندوق په وينا، بهرنی مستقيمه پانګه ونه د ۲۰۰۶/۲۰۰۷ کلونو راهيسې په کال کې د ۲ څخه تر ۳ سلنې پورې په نسبتا ثابت نرخ کې وده کړې، په ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو کې د ۳۰۰ مليون ډالرو اعظمي حد ته ورسيد. په هرصورت، دا وړاندوينه کيږي چې دا اندازه به د ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کلونو کې د ۱ څخه تر ۲ سلنې پورې کمه شي.

۲۲. د اړوندو معلوماتو د نشتوالي له امله په سيمه ايزه کچه د پرمختګ پيژندل ستونزمن دي. د سيمه ايزو فعالينو لخوا پلي شوي د پرمختيايي فعاليتونو د سمون ارزونه د اقتصاد په وزارت کې د ظرفيت د محدوديتونو له امله د دولت لخوا نه ده ترسره شوې. شته معلومات ښيي چې د ماليې وزارت له هڅو سره سره د مرکزي حکومت په بودجه کې د ولايتونو پراختيايي پلانګذاری نه دي منعکس شوي او د سرچينو د نشتوالي او د بنسټونو د چمتو کولو د کمزوري ميکانيزم له امله ولايتونو ته پيسې نه دي ځانګړې شوي. د فعاليت پر بنسټ د واليانو بودجه – چې پورته يادونه وشوه، په دې خاطر طرحه شوي چې په لنډ مهاله کې د ځينو نيمګړ تياوو يوه برخه جبران کړي.

## IV. امنيت

۲۳. په افغانستان کې د امنيتي وضعيت خرابيدل دوام لري، چې د ۲۰۰۸ کال د ۲۰۰۱ کال را هيسې او د طالبانو له نسکوريدو راوروسته تر ټولو خونړی کال و، چې په منځنی ډول هره مياشت ۹۶۰ امنيتي پيښې ثبت شوي دي، د دې په انډول په ۲۰۰۸ کال کې ۷۴۱ پيښې ثبت شوې دي. د ۲۰۱۰ کال په جنوری کې وضعيت خراب شو، د ۲۰۰۹ کال د جنوري په پرتله د امنيتي پېښو په شمېر کې ۴۰ سلنه زياتوالی راغلی دی. دا زياتوالی د يو شمېر فکتورونو د ترکيب له امله و، په شمول د نړيوالو ځواکونو د شمېر زياتوالی او د هيواد په ډيری برخو کې د هوا د تودوخې لوړه درجې سره. په ډيری پيښو کې وسله والې جګړې او ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي شامل دي. د ۲۰۰۹ کال په وروستيو دريو مياشتو کې په لويو ښارونو کې د کلکو امنيتي ترتيباتو او د روانو امنيتي عملياتو له امله ځانمرګي بريدونه د پام وړ په ډول کم شوي دي. په منځنی ډول په هره اونۍ کې ۶.۱ ځانمرګي بريدونه د ۲۰۰۷ کال له پيل راهيسې په اونۍ کې په اوسط ډول درې ځلې؛ د ۲۰۰۹ کال په ډسمبر مياشت کې په ټول هېواد کې يوازې پنځه ځانمرګي بريدونه شوي وو. دا ډول بريدونه پر ملکي وګړو يو بې توپيره بريد دی.

۲۴. د ۲۰۰۹ په څلورم ربع کې د ۲۰۰۸ کال د ورته مودې په پرتله د ثبت شوي ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی راغلی. په هرصورت، د ۲۰۰۹ کال په ډسمبر کې د ملکي تلفاتو ثبت شوي شمير د ۲۰۰۸ کال د دسمبر په پرتله ۵۰ سلنه ډېر شوی. په ټوليز ډول، په سهيل سېمه کې د وسله والې جګړې زياتوالی او په هغو سيمو کې چې مخکې باثباته ګڼل کيده، په ۲۰۰۹ کال کې د طالبانو د رژيم له نسکوريدو راهيسې د ملکي تلفاتو له امله تر ټولو ناوړه کال شمېرل کيږي. په ټوليز ډول ۲۴۱۲ ملکي تلفات ثبت شوي

چې د تیر کال په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښیي. له دې جملې څخه ۱۶۳۰ (۶۷٪) د دولت ضد عناصرو او ۵۹۶ (۲۵٪) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي دي. پاتې ۱۸۶ (۸ سلنه) د شخړې هیڅ یو اړخ ته ندی منسوب شوي. د نړیوالو ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره اقدامات، په ځانګړې توګه د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کې یو تاکتیکي لارښود صادریدل، چې د استوګنې په سیمو کې د ځواک کارول محدود کړي، په ۲۰۰۹ کال کې د ثبت شوي ملکي تلفاتو په مجموعي شمیر کې ۲۸ سلنه کمښت ته اشاره کوي، چې د ۲۰۰۸ کال په پرتله، په ۲۰۰۹ کال کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی دی. که څه هم په ملکي سیمو کې د نظامي تاسیساتو نږدېوالې، د هوایي بریدونو کارول د ملکي خلکو ژوند د خطر سره مخ کړي دی. د طالبانو د سلوک او چلند د لارښود د صادرولو سره سره چې د ۲۰۰۹ کال په جولای کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره صادر شو، د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات، د ۲۰۰۸ کال په پرتله، ۴۱ سلنه زیات شوی دی.

۲۵. د راپور ورکولو په موده کې په منځنۍ ډول په هره اونۍ کې اوه وژنې او اوه اختطافونه ترسره شوي دي. د ټولنیزو مشرانو او دیني عالمانو اختطاف او وژنه نه یوازې خلک له حکومت سره د همکارۍ نه کولو ته هڅوي، بلکې د مرستندویه کارکوونکو لپاره د سیمه ییزو ټولنو لخوا چمتو شوي خوندیتوب هم کموي. په مرستندویه ټولنو باندې د بریدونو شمیر ثابت پاتې دی ځکه چې د داخلي کارمندانو د اختطاف شمیر ډیر شوی او په کاروانونو او تاسیساتو باندې د بریدونو شمیر کم شوی دی. د بې وسلو ملکي کارکوونکو د خوځښت ازادي د جګړې د زیاتوالي او د تروریستي عملیاتو او وژنو د زیاتوالي له امله اغیزمنه شوې دي. د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په پرتله، ملکي کارکوونکو ته لا سرسی په ۳۹ ولسوالیو کې کم شوی (د ټولټال ۳۶۴ ولسوالیو څخه)، په سلو کې یوازې ۳۰ سلنه ولسوالیو کې یوازې یوه کمه برخه بې وسلو حکومتي چارواکو ته د لاسرسی وړ دي. پر مرستندویه ټولنو باندې په نېغه بریدونو له امله پراختیایي پروګرامونو ته لاسرسی محدود کړي او د ګواښ کچه په ۹۴ ولسوالیو خورا لوړ خطر او ۸۱ ولسوالیو کې لوړ خطر ارزول شوي دی.

۲۶. د جګړې له دوام څخه پاتې ماینونه او چاودیدونکي توکي د میلیونونو افغانانو په ژوند او معیشت سخت او ناوړه اغیزې لري. افغانستان په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د ځمکنیو ماینونو او د جګړې د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله په کې له ۲۱۵۰ څخه زیاتې ټولنې په مستقیم ډول اغېزمنې شوي او هره میاشت په منځنۍ ډول ۴۲ کسان وژل او ټپیان کېږي، چې ډېری یې ماشومان دي. د تلفاتو او سختو ټپونو د رامنځته کولو سربیره، د ماین ککړتیا، د کرنیزو ځمکو، اوبو، روغتیا او تعلیم ته د لاسرسي په ګډون، د معیشت د فعالیتونو مخه نیسې.

۲۷. د ۲۰۹۹ کال په دوهمه نیمایي کې، افغان ملي امنیتي ځواکونو د خپلو نړیوالو نظامي همکارانو سره په ګډه په لویدیځ کې د هرات او فراه په ولایتونو کې عملیات ترسره کړل، د ملکي تلفاتو مخه یې ونیوله او د پخلاینې او ادغام لپاره یې د کاندیدانو یوه څپه رامنځته کړه. له هغه وخت راهیسې په دواړو ولایتونو کې امنیتی وضعیت مخ په ښه کیدو دی، که څه هم طالبان توانیدلي دي چې په بادغیس ولایت کې په لوړه کچه تاوتریخوالی وساتي. په غور ولایت کې امنیت ټینګ دی. په کونړ، لغمان او ننګرهار ولایتونو کې هم ورته عملیات شوي، په ختیځ کې هم ورته عملیات بریالي وو، خو د ولسوالۍ مرکز ته د حکومت لاسرسی محدود پاتې دی. د تخار او بدخشان ولایتونو څخه د یوناما ځایي مرکه کوونکو راپور ورکړی چې ځایي خلک له اوسنی امنیتی وضعیت څخه خوښ دی.

۲۸. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې افغان پوځ او نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) د ۱۵۰۰۰ عسکرو سره په هلمند کې د طالبانو پر یوه مرکز عملیات پیل کړل. دغه عملیات، چې په مارجه کې متمرکز وو، په سیمه کې د اپینو د کرکیلې یو مهم مرکز دی، باید د حکومتدارۍ له مهمو هڅو سره هم لار شي.

۲۹. په عمومي توګه د پولیسو او پوځ په اړه عمومي چلند نه دی بدل شوی. د ماموریت افغان برخوالو په تلاشي پوستو کې د قاچاق، اختطاف او غصب په اړه افغان ملي پولیسو ته د دوی د ښکیلتیا په اړه شکایتونو ته دوام ورکړی. د ولایتي او ولسوالیو د

پولیسو په لیکو کې استخدام توکمیز او قبیلوي نابرابري رامینځته کړې او د سیمه ایزو ټولنو سره یې تاوتریخوالی رامینځته کړی. په عین حال کې، د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام د ۲۰۹۹ کال سروې موندلې چې په ټول افغانستان کې ۸۲ سلنه ځواب ویونکي په دې باور دي چې د دوی په سیمو کې پولیسو خپلې دندې په ښه یا خورا عادلانه توګه ترسره کړې.

۳۰. د افغانستان ملي اردو ته د اغېزمنې روزنې، د لوړې کچې داخلي نظم او غوره تجهیزاتو له امله په عمومي توګه په مثبته سترګه کتل کیږي. د پایلې په توګه، ځینو د محلي امنیت په چمتو کولو کې د اردو لپاره د لوی رول وړاندیز کړی دی. په هرصورت، دلته د پولیسو لخوا په معمول ډول د دندې ترسره کولو لپاره د اردو ځخه د کار اخیستلو ګواښ شتون لري. د ملي امنیت د ستراتیژۍ پراختیا چې د کابل تر کنفرانس مخکې به بشپړه شي، باید د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو رول او مسوولیتونه روښانه کړي.

۳۱. د دې لپاره چې د ولسمشر کرزي لخوا ټاکل شوي اهدافو ته د رسیدو لپاره ډاډ ترلاسه شي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په راتلونکو پنځو کلونو کې د بشپړ امنیت مسولیت په غاړه اخلي، د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه ګډ کار کوي چې د اردو او پولیسو شمیر له اوسني کچې ځخه زیات کړي. دوی په ترتیب سره نږدې ۱۰۴۳۰۰ او ۹۶۸۰۰ تنه دي، چې د ۲۰۱۰ په اکتوبر کې په ۱۳۴۰۰۰ او ۱۰۹۰۰۰ تنو ته او د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې په ترتیب سره ۱۷۱۶۰۰ او ۱۳۴۰۰۰ تنو ته ورسیږي. د ودې په هدفونو کې دا زیاتوالی د جنوري په ۲۰ نېټه د ګډې همغږۍ او نظارت بورډ لخوا په خپله ناسته کې موافقه وکړه او وروسته د لندن په کنفرانس کې تصویب شو. که څه هم افغان ملي اردو اوس د خپلې خوښې د ودې د پلان له مخې یو څه شاته ده، خو وړاندوینه کیږي چې د وروستیو استخدام بریالیتوب او د (سرتیرو) د ساتلو لپاره د معاشونو زیاتوالی به ډیر ژر د اردو وده بیرته په حال کړي. د ولسوالیو متمرکز پرمختیايي پروګرام، چې موخه یې د ولسوالیو په کچه د پولیسو فعالیت ښه کول دي، تر اوسه ۸۰ ولسوالۍ تر پوښښ لاندې نیولي دي. د سرحدی تمرکز پروګرام په نوم یو نوی پروګرام هم د سرحدی پولیسو د کیفیت د لوړولو په موخه په لاره اچول شوی دی.

۳۲. برسېره پردې، د لندن په کنفرانس کې برخه والو موافقه وکړه چې د افغانستان په مشرۍ د ولایت د امنیت د سپارلو لپاره یو پړاویز پلان جوړ کړي، چې د ۲۰۱۰ په پای کې یا د ۲۰۱۱ په پیل کې به پیل شي، په دې شرط چې شرایط سم وي. د افغان ځواکونو د روزنې د ملاتړ لپاره د نړیوالو ځواکونو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی هم ومنل شو. د اردو لپاره، ۲۱ ټیمونه چې ۲۰-۳۰ روزونکي لري او ۱۱۹ ټیمونو پولیسو ته اړتیا لري. برسېره پردې، نږدې ۱۱۹ سازماني روزونکو ته اړتیا ده چې د روزنې افسر، د پوهنځي غړي، د وسلو روزنه، او د بلوا ضد اکاډمۍ وړتیا ولري.

۳۳. د جنورۍ په ۲۰ مه د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ په غونډه کې، د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو د افغانستان د ملي پولیسو ستراتیژي د تصویب لپاره وړاندې کړه. ستراتیژي په ځانګړې توګه د ګواښ او لومړیتوب ساحې په ګوته کوي او د پولیسو ځواک په شپږو ستنو ویشي: (الف) د ملکي پولیس، (ب) امنیتی پولیس، (ج) سرحدي پولیس، (د) د جرمونو ضد پولیس، (هـ) د عامه محافظت ځواک او (و) تقویتی پولیس (د بیلګې په توګه، اداري او د نهادونو د ملاتړ میکانیزمونه). یوځل چې تصویب شي، دا پلان به بالاخره د افغان ملي پولیسو د جوړښت په اړه د نړیوالې ټولنې اوږدمهاله اختلافات حل کړي، او په ځانګړې توګه، ایا دا د امنیتی پولیسو او عامه نظم یا د مردمی د پولیسو ځواک باندې تمرکز کوي. په دې وروستیو کلونو کې د دې مسلې په اړه اختلاف د پولیسو د اصلاحاتو مخه نیولې او د بسپنه ورکوونکو ترمنځ یې جنجال زیات کړی دی. په دې برخه کې، دا مهمه ده چې یوناما خپل مشورتي پولیس شتون په ټولو اتو ساحوي دفترونو کې وساتي او پراخ کړي ترڅو د پولیسو او امنیتي مسلو سره اړیکه ونیسي، نظارت وکړي او مشوره ورکړي.

۳۴. د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د پولیس افسرانو د کره شمیر په معلومولو کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. د شتمنیو د لیست یو نوی پروګرام به د کورنیو چارو وزارت او د پولیسو د روزنې ځانګې (ایساف) لخوا په ګډه پلي شي. د ټولو سرتیرو شاوخوا ۵۰ سلنه، د هغو سرتیرو په ګډون چې په خورا ناامنه ولسوالیو او ولایتونو کې خدمت کوي، تر پوښښ لاندې نېسي. د ۲۰۱۰ کال

په جنورۍ کې، د ټولو پولیسو ۹۴ سلنه د الکترونیکي تنخوا تادیاتو سیستم پوښل شوي، او ۷۳ سلنه د الکترونیکی مالي وجهو د لیږد سیستم پوښل شوی دی. دواړو سیستمونو د پولیسو په معاشونو کې د فساد فرصتونه کم کړي دي. د لوړ خطر په سیمو کې کار کوونکو پولیس افسرانو ته د معاشونو د ورکولو لپاره د اسانتیا لپاره، یو نوی پروګرام معرفي شوی چې د ګرځنده لیږد اجازه ورکوي.

## ۷. بشري حقونه

۳۵. د جګړې په تړاو د نیول شویو بندیانو په تړاو د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې د افغان حکومت او د امریکا د دفاع وزارت ترمنځ یو تفاهم لیک لاسلیک شو چې په ۲۰۱۲ کال کې د بګرام په زندان کې د بندیانو مسوولیت د څېړنو لپاره اړوندو افغان چارواکو ته سپارل کېږي، او د هغوي دوسیې د قانوني تعقیب او محاکمې لپاره چمتو کوي. دا به مهمه وي چې له دا ډول توقیفیشوو کسانو سره انساني چلند وشي او د عادلانه محاکمې تضمین وشي.

۳۶. د معافیت پر وړاندې مبارزه د عمومي بخښنې او ملي ثبات د قانون په خپرولو سره ننګول شوې وه. د قانون مسوده د ۲۰۰۸ کال د نومبر په وروستیو کې جوړه شوې وه خو تر دې دمه نه ده خپره شوې. دا د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو له مکلفیتونو څخه د سرغړونه شمېرل کیږي ځکه چې ې د بشري حقونو د جدي سرغړونو په ګډون د تېر جدي جرمونو مرتکبین بخښي.

۳۷. دا حقیقت چې د غیرقانوني وسله والو ډلو سره تړلي پېژندل شوي اشخاص او د بشري حقونو سرغړونکي په دې وتوانیدل چې حکومتي څوکیو ته ځان کاندید کړي، یو له هغو عناصرو څخه و چې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو پروسه یې زیانمنه کړه. د بیاکتنې یو هراړخیز پلان چې په دقیقه توګه کاندیدان وپېژني او نا وړله وګڼي، هغه اقدامات چې موخه یې د کاندیدانو او رایه ورکوونکو په توګه د ښځو او اقلیتونو ګډون زیاتول، او د بیان ازادۍ لپاره د فضا زیاتول دي ترڅو د ټاکنو لپاره د مناسب چاپېریال رامینځته کولو کې مرسته وکړي، او د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر میاشت کې د آزاد او عادلانه ټاکنو لپاره ممد چاپېریال چمتو کړي.

۳۸. معافیت او له واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه د دولتي او غیر دولتي فعالینو له خوا د بیان پر ازادۍ له بریدونو سره نږدې تړاو لري. د رسنیو د یوه سازمان د معلوماتو له مخې، په ۲۰۰۹ کال کې د رسنیو د کارکوونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۸۳ پېښې ثبت شوي، چې په کې درې خبریالان وژل شوي، ۴۲ بندیان شوي، ۲۱ تنه په فزیکي ځورول شوي او ۱۲ خبریالان د وسله والو یا حکومتي چارواکو له خوا ګواښل شوي دي. داسې اندیښنې شتون لري چې د ۲۰۰۹ کال د رسنیو په قانون کې د رسنیو محدودیت ممکن د ناوړه ګټه اخیستنې او سرغړونې امکان ته اجازه ورکړي. د رسنیو په پخواني قانون کې ورته څرګندونې د هغو خبریالانو د نیولو او ډارولو لامل شوې چې پر حکومت یې نیوکې کولې او یا یې فساد افشا کړی و. په داسې جرم کې د افترا د شاملولو په اړه هم اندیښنې شتون لري چېرې چې د نړیوال قانون له مخې د بیان پر آزادۍ د توجیه وړ محدودیت شتون نلري.

۳۹. یو کاري ډله چې په هغه کې یوناما، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ دفتر، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر، د روغتیا نړیوال سازمان، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د نړیوالو نادولتي موسسو استازې ګډون لري په وسله والو جګړو کې د ماشومانو وضعیت څاري او راپور ورکوي. کاري ډلې نږدې ۱۸۰ د ماشومانو اړوند شخړو پورې اړوند پیښې ثبت کړي چې لږترلږه ۱۲۰ ماشومان وژل او یا ټپیان شوي دي. په ښوونځیو او روغتونونو بریدونه د ۴۷ راپور شویو پیښو سره یوه لویه اندیښنه ده. که څه هم افغان حکومت د روم د اساسنامې پر بنسټ د جرمونو نړیواله محکمه تصویب کړې، خو په ملي کچه تر

اوسه په دې برخه کې تقنيني همغږي نه ده رامنځته شوې. له نړيوالو معيارونو سره سم د ماشومانو په کار گمارل چې بايد جرم ومنل، په دغه برخه کې کوم پرمختگ نه دی شوی.

## VI. د مخدره توکو په وړاندی مبارزه

۴۰. د کوکنارو د ارزونې يوه چټکه سروې د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په ۱۰ د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې د دفتر له خوا خپره شوه، چې د کښت په وخت کې د بزګرانو د ارادې د سروې پر بنسټ، تمه کيږي چې د ۲۰۰۹ کال سره ورته وي. نور اته ولايتونه (بغلان، فارياب، سرپل، بدخشان، کابل، کنړ، لغمان او ننګرهار) ښايي په ۲۰۱۰ کال کې د هدفي مرستو لپاره له کوکنارو پاک شي. په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې د کوکنارو کښت په سلو کې ۳۶ کم شوی، چې تر ډېره د بازار د ځواکونو له امله دی چې قانوني حاصلات يې زړه راښکونکي کړي دي. د جواز لرونکو محصولاتو بيه راټيټه شوې، که څه هم دا به د کروندګرو لپاره ممکنه کړي چې بيرته د کوکنارو کښت ته راستانه شي. که د توليد کمښت د تيرو دوو کلونو په څير پاتې شي، د کرنيزو مرستو زياتوالي او غوره حکومتوالۍ ته اړتيا ده.

۴۱. د رينبو ستراتيژۍ مثلث نوښت د يوې برخې په توګه د افغانستان، ايران (ايران اسلامی جمهوريت) او پاکستان ترمنځ درې اړخيز ګډ عمليات په بريالیتوب سره ترسره شول، چې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې دفتر لخوا هم پلی شو. په دغو دريو عملياتو کې ۴۰ تنه قاچاق وړونکي نيول شوي او ۹۴۸ کيلوګرامه ترياک، ۳۵۱ کيلوګرامه هيروين او ۴۸۳ کيلوګرامه چرس ترلاسه شوي دي. درې واړو هيوادونو موافقه وکړه چې افسران به په تهران کې د ګډ پلان جوړونې مرکز لپاره دايمي اړيکې رامينځته کړي او په هره سيمه کې به د پولې هاخوا د اړيکو دفتر جوړ کړي. همدارنګه د رينبو ستراتيژۍ تر چتر لاندې، TARCET عمليات (د قاچاق ضد سيمه ايز اړيکي، تخصص او روزنه) د ټولو اتو ګډون کونکو هيوادونو په ګډون: افغانستان، ايران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان، د اړين کيمياوي توکو په اړه د پولې پورې غاړې تعامل په بريالیتوب سره سرته ورسول.

## VII. بشري وضعيت

۴۲. د داخلي بې ځايه شويو افغانانو شمېر ۲۹۶۰۰۰ اټکل شوی دی. د جګړو له امله د بې ځايه شويو خلکو پيښې دوام لري، په ځانګړې توګه د هيواد په سهيل او لويديځو سيمو کې، چې د پام وړ شمير کورنۍ د جګړې د نېغو پايلو له امله بې ځايه شوي دي. د هلمند په مارجې او نادعلي ولسواليو کې وروستيو پوځي عملياتو شاوخوا ۱۵۰۰ کورنۍ بې ځايه کړې دي. په زابل، بادغيس، فراه او غور ولايتونو کې هم په لږه کچه کې ځايه شوي دي. ډيری بې ځايه شوي کسان د دوی د بې ځايه کيدو او بشري مرستو ته د نه لاسرسي له امله په پوره توګه ندې حساب شوي.

۴۳. بشردوستانه غبرګون، د خراب امنيتي وضعيت له امله د لاسرسي نشتوالي او د خوځښت او عملياتي خنډونو له امله دوام لري. په ځينو سيمو کې روانو پوځي عملياتو خلکو ته لاسرسي په بشپړه توګه پرې کړی دی. دا د بې ځايه کيدو د تاييد او اړو خلکو ته د مرستې چمتو کولو مخه نيسي. د ملګرو ملتونو د بشردوستانه چارو د همغږۍ دفتر (اوچا) د دوديزو افغان-نړيوالو بشردوستانه او نظامي ځانګړو لارښوونو بشپړ رعايت ته دوام ورکوي، په ځانګړې توګه په اردو غږ کوي چې د وروستي حل په توګه د بشري

مرستو په رسولو کې خپل رول محدود کې او یوازې هغه وخت بشري مرستو په رسولو کې ونډه واخلې کله چې د مرسته رسوونکې فعالین نشي کولی مرسته چمتو کړي.

۴۴. که څه هم ژمی ډیر یخ نه و، بشری سازمانونو د هر ممکنه سیمه ایز بشردوستانه پروګرام د یوې برخې په توګه د ژمي د چمتووالي پلان چمتو کړ. د خوړو نړیوال سازمان د مخه ۲۸۷۶۰میټریک ټنه خواړه د ۸۰۳۷۱۵ ګټه اخیستونکو سره د مرستې په توګه لیرې پرتو سیمو ته لیږدولي دي. دا د غیر خوراکي توکو مرستې سره بشپړ شوي چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ لخوا له ۲۰۰۰۰ څخه زیاتو زیان منونکو بې ځایه شویو ته ویشل شوي. په ۲۰۰۹ کال کې د خوړو نړیوال سازمان، نږدې ۹ میلیونه زیان منونکو افغانانو ته خواړه چمتو کړل. پدې کې نږدې ۴.۱ ملیون افغانانو ته د ۵۱۳۷۰ میټریک ټنه خوراکي توکو مرسته شامله ده، په شمول د ۳۲۵۴۰۰ خلکو په شمول چې د سیمه ایزو بیړنیو پیښو لکه د پسرلي سیلابونو له امله اغیزمن شوي دي. د ملګرو د کډوالو عالي کمشنرۍ دفتر سره په نږدې همکارۍ کې، دا په ورته کال کې د ۱۱۸۸۰۰ داخلي بې ځایه شویو او ۴۳۶۰۰ راستنیدونکو سره مرسته کړیده.

۴۵. د ۲۰۱۰ لپاره یو نوی، ډیر متمرکز بشري عمل پلان د جنوري په میاشت کې پیل شو. که څه هم دغه پروژه سږ کال بودیجه نه وه تر لاسه کړې، خو د لندن په کنفرانس کې په ښه توګه خپره شوه او په افغانستان کې د پراخو فعالو تمویلوونکو د شاملولو لپاره هڅې ترسره کوي.

## VIII : د ماموریت ملاتړ

۴۶: د هغو مقاصدو لاس ته راوړلو لپاره چې امنیت شورا ته وړاندې شوی زما په د تیر راپور کې بیان شوي وو، (اې/۶۴/۶۱۳-ایس/۲۰۰۹/۶۷۴)، عمومي اسامبله یوناما ته د ۲۰۱۰ کال بودیجه، د وروستي تخصیص په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالی سره تصویب کړه. په دې کې د نړیوالو کارمندانو شمیر ۱۳۸ ته، د ملي متخصصینو شمیر ۷۷ ته، د ملي ملاتړ کارمندانو شمیر ۴۹۵ ته او د ملګرو ملتونو د داوطلبانو شمیر ۲۲ تنو ته زیاتول شامل دی. د ۲۰۱۰ کال په بودیجه کې په جوزجان، تخار، پنجشیر او د امنیتي وضعیت په شرط، په پکتیکا او یا لغمان ولایتونو کې د څلورو نویو ولایتي دفترونو پرانیستلو لپاره بسپنه ځانګړې شوې ده. په ۲۰۰۹ کې په سرپل او ترینکوټ کې دوه ولایتي دفترونه پرانیستل شول. د فراه دفتر فعال دی خو د رسمي پرانیستلو په درشل کې دی. د جوزجان او تخار دفترونه هم فعال دي خو ټاکل شوې رسمي پرانیستې مراسم د ناوړې هوا له کبله ځنډول شوي دي. د امنیتي ګواښونو له امله، یوناما تر اوسه نه دی توانیدلی په غزني او هلمند کې دفترونه پرانیزي خو په سیمه کې د خپلو شریکانو سره د حل لارې په لټه کې ده تر څو په ۲۰۱۰ کې دغه دفترونه پرانیستل شي. یوناما په هغو ولایتونو کې چیرې چې ماموریت هیڅ ساحوي دفتر نه لري، د خپلو فعالیتونو د جاري ساتلو لپاره په دوره یي توګه له دغو ولایتونو څخه لیدنه کوي. په اسلام اباد او تهران کې د خپلو اړیکو دفترونو سربیره، ماموریت د ترکمنستان پلازمینه عشق آباد کې د منځنۍ آسیا وقایوي ډیپلوماسي لپاره د ملګرو ملتونو سیمه ایز مرکز ته یو کارمند ګمارلی دی تر څو د ماموریت سره سم په سیمه کې خبرې اترې او اړیکې پراختیا ومومي او "د سیمه ایزې همکارۍ ملاتړ وکړي چې د یو باثباته او سوکاله افغانستان لپاره کار وکړي."

۴۷: د کارکوونکو استخدام یوه اندیښنه او لومړیتوب دی. د بشري منابعو اصلاح شوې پالیسي پلې کول په داسې حال کې د استخدام په برخه کې د ځنډ لامل شوه چې نوې سیستم په فعالیت پیل کړ. د ماموریت څخه د کارمندانو وتل د نوي اړتیاوو سره سمون نه درلود. د ۲۰۱۰ کال په بودیجه کې د اضافي پوستونو د ډکولو لپاره بسپنه ځانګړې کړای شوې ده. په پایله کښې، خالي پوستونه په ډراماتیک ډول د نړیوالو کارمندانو لپاره ۴۲ سلنه او د ملي کارکوونکو لپاره ۳۸ سلنه لوړه شوې. د دې ستونزې د حل لپاره، د ساحوي ملاتړ اداره یوناما ته د استخدام ټیم لیږلی ترڅو د ۶۰ تر ۷۰ نړیوالو کارمندانو د استخدام د مارچ تر پایه په

بشپړولو کې مرسته وکړي. سکرتریت ماموریت ته د استخدام د واک ځانګړي صلاحیت هم تایید کړتر څو د استخدام بهیر ګړندی کړای شي.

۴۸: د باختر مېلمستون له برید وروسته ټول کارکوونکي چې دوبۍ ته منتقل شوي ول، د مارچ تر لومړۍ اونۍ کابل کې استوګنه پیل کړه او دا د ملګرو ملتونو د عملیاتو په مرکز کې د ۳۰ اضافي د مېشت واحدونو پر مټ ممکن شو. د مېشت نور پنځوس واحدونه به د اپریل تر پایه چمتو کړای شي چې په افغانستان کې په لنډمهاله توګه د بېځایه شویو کارمندانو لپاره او همدارنګه د نوي استخدام شویو کارکوونکو لپاره وکارول شي. په لنډه موده کې، په ولایتي او سیمه ایزو دفترونو کې په خالي بستونو پر استخدام تمرکز کیږي، چې په کې د استوګنې خوندي واحدونه شامل دي. د کال تر پایه په ټولیز ډول په کابل کې سل نور واحدونه او په ساحه کې د اضافي استوګنې واحدونه پلان شوي دي.

## IX: د یوناما دنده

۴۹: په سویل کې د امنیتي وضعیت د خرابیدو او د ملګرو ملتونو په وړاندې د باور وړ ګواښونو د زیاتیو په غبرګون، د ملګرو ملتونو د امنیتي ټیم په سپارښتنه او زما د ځانګړي استازي او د ملګرو ملتونو لخوا ټاکل شوي چارواکي لخوا د وړاندیز وروسته، ما د ۲۰۱۰ کال د فبروري له ۱۹ څخه په سویلي سیمه کې د امنیت څلورم پړاو اعلامیه تصویب کړ. یوناما او د ملګرو ملتونو نورې اداري د خطر د کمولو پر اضافي تدبیرونو په کار بوختې دي تر څو په سویلي سیمه کې د حیاتي بیړنیو حالاتو، بشردوستانه مرستو، امنیت او نورو ضروري عملیاتو لپاره لږ ترلږه شتون ډاډمن کړي.

۵۰: د یوناما ماموریت، چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۳ مه پای ته رسیږي، باید د اضافي ۱۲ میاشتو لپاره تمدید شي. د ماموریت هغه نهه عناصرچې د امنیت شورا ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړه لیک څلورم پاراګراف کې بیان شوي په افغانستان کې د ماموریت د لارښود دپاره دوام ومومي. خو، د هغو عناصرو په دریو کې باید تعدیلات په پام کې ونیول شي.

۵۱: لومړی، د ماموریت عمومي همغږۍ دنده باید د افغانستان حکومت د همغږۍ زیاتیدونکي رول په پام کې ونیسي. د همغږۍ د څارنې د ګډ بورډ د شریک رییس په توګه یوناما د نړیوالې ټولنې له خوا باید د یوې لا همغږې تګلارې او همدارنګه د مرستې د اغیزمنتیا پر اصولو عمل کولو ته وده ورکونې ته دوام ورکړي. نه یوازې دا بلکه د مالیې وزارت په چوکاټ کې د حکومت د خپل همغږي ظرفیت د ملاتړ لپاره په زیاتیدونکي توګه کار وکړي. د لندن کنفرانس د هوکړې له مخې چې د آیساف له خوا تر سره کیدونکي، په ځانګړې توګه د ولایتي بیارغونې ټیمونو ملکي فعالیتونو د همغږۍ لپاره د لوړ پوړی ملکي استازی ټاکل، او د لیزبون تړون له مخې د یو واحد استازي په توګه د اروپایی اتحادیې او اروپایی کمیسیون دفترونو پلان شوی ادغام د دغو دوو سازمانونو تر ملاتړ لاندې د مرستې همغږۍ ته باید وده ورکړي. په یوناما کې د لوړ پوړو مشاورینو د وقف شوې ډلې تاسیس کولی شي د تمویل کونکو مثبت ځواب ورکونې ته وده ورکړي او په دې توګه د حکومت تر مشرۍ لاندې پروګرامونو کې د خپلو هڅو همغږي زیاته کړي.

۵۲: دوهم، د ټاکنو په اړه که چیرې د افغانستان د حکومت له خوا د ټاکنیزو مرستو غوښتنه وشي او د امنیت شورا یوناما ته دا صلاحیت ورکړي، یوناما به چمتو وي چې د خپلواکو ټاکنو کمیسیون له لارې د ټاکنو لپاره د نړیوال ملاتړ ټولیزه سیاسي همغږي برابره کړي پداسې حال کې چې تخنیکي مرستې به د یو ان ډي پي په غاړه وي. د ملګرو ملتونو رول به په ښکاره توګه د افغانستان د ټاکنیزو بنسټونو ملاتړاو ظرفیت جوړونه وي. د دې ملاتړ نوعیت او اندازه به په څو شیانو پورې اړه ولري – لومړۍ هغه اصلاحات او اصلاحي اقدامات چې د ټاکنیزې پروسې وړاندیز وکړي، لکه څنګه چې په اتم نمبر پراګراف کې راغلی دی، دوه یم د نړیوالو مرسته کوونکو لخوا د مالي مرستې کچه او دربیم، په اوسنۍ امنیتي فضا، په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د کارکوونکو امنیت او خوندیتوب. په هغه صورت کې چې ملګري ملتونه ونشي کولی چې د ۲۰۰۹ په څیر، په شمول د ساحې په سطح، د ورته

کڅې ملاتړ چمتو کړي، د ملګرو ملتونو کاري شریکانو ته به په کار وي چې هغې ساحې بشپړې کړي چې د سازمان لخوا پوښل شوي ندي. سربیره پردې، ملګري ملتونه ژمن دي چې د حکومت سره د راتلونکي اوږد مهاله ټاکنیزو اصلاحاتو په برخه کې مرستې ته دوام ورکړي.

۵۳: دربیم، د پخلاینې په برخه کې د ماموریت واک دا توان ورکوي چې د افغانانو په مشرې د پخلاینې د پلې کولو پروګرامونو لپاره د ملاتړ د اړتیا مرسته برابره کړي. ولسمشر کرزي په خپله پرانیستونکې وینا کې د داسې یو پروګرام پیل کولو اراده څرګنده کړه. د دې جزیات به د لویې جرګې په پایله کې څرګند شي چې ټاکل شوې د روان کال په وروستیو کې ترسره شي. یوناما د باور جوړونې د ملاتړ په هغو اقداماتو کې هم رول لوبولی شي چې د حکومت په مشرۍ پروسه بریالۍ کړي. برسېره پردې، دا کولی شي خپلې مرستې - په سیمه کې او په پراخه توګه – د اړوندو خواوو د رضایت پر بنسټ هغو هڅو ته وړاندې کړي که څه هم د دې دندې نوعیت په پیل کې به اختیار او انعطاف پذیرۍ ته اړتیا ولري. په پای کې، ماموریت باید د بیا پیوستون پروګرام په مدیریت کې رسمي رول لوبوي.

## X: ملاحظات

۵۴: راتلونکې درې میاشتې په افغانستان کې یوه ګڼه ګونه اجنډا وړاندې کوي. ولسمشر کرزی اراده لري چې د اپریل په میاشت کې د پخلاینې په اړه د سولې جرګه جوړه کړي، ما په کابل کې د جون په میاشت کنفرانس بللی دی، د ټاکنو چمتووالی باید پیل شي، او نظامي فعالیتونه به زیاتوالی ومومي. دا پیښې او پروسې باید په داسې ډول اداره شي چې ډاډ ترلاسه شي چې یو بل د کمزورې کولو پر ځای پیاوړې کړي، او دا چې له پخوانیو ټاکل شویو لومړیتوبونو څخه سیاسي توان لرې نکړي.

۵۵: په ښه توګه د اداره کیدو په صورت کې، دا پیښې کولی شي ستر افغان مشرتابه ته د لیرد جوړښت رامینځته کړي. د دې لیرد تمرکز د افغانستان د ریښتینې حاکمیت په جوړولو دی. د وړتیا او مسؤلیت پرته حاکمیت شتون نلري، او د لیرد هدف ډاډ ترلاسه کول دی چې د افغانستان حکومت کافي وړتیا او مسؤلیت لري چې حقیقي حاکمیت د ځان کړي. که چیرې نړیواله ټولنه حکومت له پامه وغورځوي، کیدای شي دا پروسه زیانمنه شي. نو اړینه ده چې موږ یو داسې نوی ذهنیت ته وده ورکړو چې د هیواد په اړه د افغانانو درک ته د درناوۍ ښکارندوی وي.

۵۶: د حاکمیت لیرد ترلاسه کول پوځي او ملکي هڅو تر منځ توازن ته هم اړتیا لري. په داسې حال کې چې ما د اضافي نړیوالو نظامي ځواکونو هرکلی کړی، په ورته وخت کې په ټولیزه توګه په افغانستان کې د سولې او پخلاینې د هڅو د نظامي کولو په وړاندې د احتیاط غوښتنه کوم. د امکان تر حده ډیری ملکي دندې باید ملکي ادارو وسپارل شي. په هغو هیوادونو کې چې سرتیري وراستول کیږي، د سیاسي ضرب الاجلونو د پوره کولو لپاره د بې پایه پروژو څخه د لنډ مهالو پایلو ترلاسه کولو لپاره د لیوالتیاڅخه باید ډډه وشي. که څه هم د پوهیدو وړ او تر یوې اندازې پورې، د توجیه وړ دی، د مرستو د ویش د تخصیص لپاره داسې تمایل چې چیرې چې د تمویل کونکو سرتیري ډیر تمرکز لري هلته ډیره مرسته وشي، باید د ډیر همغږي لرونکې او په ملي کچه د مرستې ستراتیژۍ پر بنسټ وي تر څو وکولی شي د اړتیا وړ حقیقي اقتصادي وده چمتو کړي او د لیرد د تګلارې ملاتړ وکړي.

۵۷: اوسنی راپور د مرستو په اغیزمنتوب کې ځینې پرمختګونه په ډاګه کوي. خو دا ښکاره خبره ده چې د مرسته کوونکو هیوادونو د فعالیتونو په اړه، که د پوځي یا ملکي بنسټونو له خوا وي، لاهم لږ معلومات حکومت ته رسیږي. داسې لیوالتیا شته چې د پروژو پلي کولو کې په کافي اندازه د افغانانو سره مشوره نه کیږي او یا د افغان ادارو له لارې نه پلې کیږي. په دې توګه، د دوی په نامه ترسره شویو پروژو کې د دوي د بشپړ ملاتړد ترلاسه کولو فرصت له لاسه ورکوو او د هیواد په اړه د افغانانو له پوهې څخه له ګټې اخیستنې محرومه پاته کیږو. افغان مشرتابه ته د واک انتقال د افغانانو زیاتې ونډې ته اړتیا لري. زموږ کړنې باید زموږ د خبرو سره سمون ولري.

۵۸: په سیاسي ډګر کې، پارلماني ټاکنې چې ټاکل شوې د سپټمبر په ۱۸ نیټه تر سره شي، بې له شکه د افغان ادارو لپاره به یوه بله ننګونه وي او د کال په دویمه نیمايي کې به ډیر زیات سیاسي توان وکاروي. په ډیرو چارو کې، د لوژستیکي او سیاسي اړخونو له پلوه دا ټاکنې به د ولسمشریزو ټاکنو په پرتله خورا پیچلې وي. که د افغانستان ټاکنیزې ادارې په شفافه، بې پرې او خپلواکه توګه فعالیت وکړي، چې د مشروع رایه ورکوونکو رایې په معتبر ډول واچول شي او وشمېرل شي، د ډیموکراسۍ او پیوستون لپاره یو مهم پړاو به تر سره شي. که نه، د بې ثباتۍ خطرونه به، چې د ۲۰۰۹ ولسمشریزو ټولټاکنو کې پټ پاتې شوي وو او د سیاستولۍ او د ځینو مهمو بنسټونو اغیزمن فعالیت له لارې مخنیوي شوی وو، لا زیات شي.

۵۹: لکه څنګه چې په اوسني راپور کې یادونه وشوه، په تیرو څو میاشتو کې د پام وړ پرمختګ، د شخړې د پای ته رسیدو لپاره سیاسي پروسې ته د اړتیا په اړه په زیاتیدونکي اجماع وه او همدارنګه د ټیټې او منځنۍ کچې یاغیانو لپاره چې غواړي جګړه پریږدي د یو داسي پروګرام رامینځته کول چې دوی خپلو ټولنوسره یوځای شي. دا د هغې شخړې د حل ټول عناصر دي، چې باید پای ته ورسیږي. مګر دغې حل لارې باید د ښې حکومتولۍ او لا اغیزمنو مرستو سره یوځای شي ترڅو د ناراضو خلکو باور بیرته ترلاسه کړي. تر ټولو مهمه دا ده چې د شخړې د پای ته رسولو هڅې باید د اساسي قانون له ملاتړه برخمن پیاوړی سیاسي نظم ولري.

۶۰: هغه څوک چې پخلاینه غوره کوي باید د ۲۰۰۲ کال را په دې خوا د لاسته راوړنو درناوی وکړي او د سوله ییز او سوکاله افغانستان لپاره د اکثریت افغانانو هیلې ومني، چیرې چې هر افغان د افغانستان د اساسي قانون له مخې له خپلو حقونو برخمن شي.

۶۱: ما د دې ملاحظاتو په پیل کې د راتلونکو میاشتو لپاره له مصروفیتو ډک تقویم یادونه وکړه. او همدا راز د یوناما لپاره هم ډیر زیات مصروفیتونه ګوري. په همدې موده کې یوناما به د سرمنشي د نوي ځانګړي استازي، سټافان دي مستورا د راتګ سترګې په لار ده او همدارنګه د ماموریت تجدید هم متوقع دی. زه غواړم چې د ځانګړي استازي کای ایډ څخه مننه وکړم چې په تیرو دوو کلونو کې، د افغانستان د اجنډا په جوړولو کې مرسته کړې، یوناما یې پیاوړې کړی او د خپلې دندې د پیل په وخت کې پر خپلې هغې خبرې ولاړ وو چې هغه تل د خلګو د خدمت لپاره ولاړ دی. زه غواړم چې د یوناما د زړورو او سرښندونکو سړو او میرمنو څخه هم مننه وکړم چې هره ورځ په افغانستان کې پاتې دي او د ملګري ملتونوهیلې په واقعیت بدلوي.

## ضمیمه:

## د پرمختګ معیارونه او شاخصونه

### I: حکومتولي او د ادارو جوړول

**معیارو: د ډیموکراټیک، مشروع، حساب ورکوونکو بنسټونو له لارې په ټول هیواد کې تر سیمه ایزې کچې د حکومت واک پراخول په داسې حال کې چې د پالیسیو پلې کولو ظرفیت ولري او په زیاتیدونکي توګه د خپل کارونو د جاري ساتلو وړتیا ولري.**

د پرمختګ لپاره اړتیاوو کې سیاسي اراده او په شمول د عدلي سکتور د ملي او سیمه ایزو بنسټونو د جوړښت لپاره د تمویل سربیره له فساد سره د مبارزې او د قانون حاکمیت ته ژمنتیا؛ او د افغانستان اړوندو بنسټونه د ټاکنو د تنظیم لپاره ظرفیت شامل دي.

| د پرمختګ شاخصونه | ارزونې |
|---|---|
| د باور وړ ملي او سیمه ییزې ټاکنې تر سره کول | • د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنې ترسره شوې او د ټاکنو پایلې تصدیق شوې. |
| | • په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما)، ملي او نړیوال څارونکي وایي چې په پروسه کې د پام وړ بې نظمۍ شتون درلود. |
| په مرکز، ولایتي او ولسوالیو په کچه د ملکي خدمتونو په ظرفیت کې ښه والی | • ځینو رایه ورکوونکو، کاندیدانو او سیاسي ګوندونو د پروسې په اړه د نړیوالې ټولنې لخوا د پام وړ مداخلې له پلوه نارضایتي څرګنده کړه. |
| | • د هېواد له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ ولایتونو کې دولتي کارکوونکو لپاره د ملکي خدمتونو د روزنې مرکزونه او/یا د روزنې اسانتیاوې چې د مسلکي زده کړې چاپیریال چمتو کوي، شتون لري. |
| | • په جنوري او فبروري کې په ټول افغانستان کې ۳۲۰۴ ملکي کارمندان له ملکي خدمتونو نړیوال کمیسیون څخه، چې د نړیوالې ټولنه لخوا ملاتړ کیږي، رسمي روزنه ترلاسه کړه. |
| | • د معاشونو او رتبو د اصلاحاتو بهیر دوام لري او د راپور ورکولو په موده کې د ۴۰۰۰ ملکي مامورینو او ۴۱۰۰۰ ښوونکو پوستونه بشپړ شوي. |
| دولتي بنسټو کې دننه فساد کمول | |

| | |
|---|---|
| | • د ماموریت په ملاتړ د ظرفیت لوړولو اوه اضافي کاري ډلې جوړې شوې چې ټولټال یې۳۱ ته رسیږي.<br>• د فساد په اړه د عامه افکارو په اړه د مخدره موادو او جرمونو په وړاندې د ملګرو ملتونو د دفتر سروې / ارزونه خپره شوه.<br>• د روڼتیا نړیوال سازمان د اداري فساد د ادراک په شاخص کې افغانستان د ۱۸۰ هیوادونو په درجه بندۍ کې له ۱۷۶ څخه ۱۷۹ ته راښکته شو.<br>• د راپور ورکولو په موده کې، د ۳۴ څخه ۱۵ ولایتونه د ولایت په کچه د فساد سره د مبارزې نوښتونه پیل کړل. چیرته چې غوښتنه شوې، یوناما د دندو د لائحې په شمول تخنیکي او سازماني ملاتړ چمتو کوي، تر څو د هغوی فعالیت تضمین شي.<br>• د لوی څارنوالۍ په دفتر کې د فساد ضد څارنوالانو د ارزول شوي او متخصص ټیم لپاره د دندو لایحه حتمي شوه. د نړیوال مشورتي مرستې د ملاتړ سره دغه ټیم د فساد د دوسیو محاکمه د ۲۰۰۹ په منۍ کې پیل کړه. |
| د دولت د عوایدو په راټولولو کې زیاتوالی (مالیات او تعرفې) | • د ۲۰۰۹ په وروستیو کې، له فساد سره د مبارزې مرکزي محکمې لپاره د قاضیانو ارزونه پیل شوه. ستره محکمه د فساد ضد ولایتي محکمو لپاره د قاضیانو ګمارل پیل کړ. |
| د باور وړ داسي قضايي او جزايي سیستمونو رامنځته کول چې د بشري حقونو درناوی او ساتنه وکړي، داسي قضايي سیستم وي چې ټول اتباع ورته لاسرسي ولري. | • د مالیې وزارت د ارقامو له مخې د ۲۰۰۹ د جولای او دسمبر تر منځ د راټول شویو مالیاتو او تعرفو په عوایدو کې د جنورۍ څخه تر جون میاشت پورې د مودې په پرتله نږدې ۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی. |
| د کافي زیربناوو چمتو کول تر څو د دولتي بنسټونو فعالیت وهڅول شي، په ځانګړې توګه په سیمه ایزه کچه<br><br>د رسمي عدالتي سیستم د صداقت او اغیزمنتوب په اړه په عامه پوهاوي ښه والی او پر هغه باندې تکیه | • له ۵۴۰ څخه زیات قاضیان او ۸۷ څارنوالان او مدافع وکیلان د مسلکي مخکینۍ مرحلې په متمرکز پروګرامو کې شامل شوي دي. اوس مهال۷۰ اضافي څارنوالان د خدمت په لړ روزنیزې مرحلې په متمرکز پروګرام کې نوم لیکنه کړې ده.<br>• حکومت د نړیوال ملاتړ سره د ولسوالیو په کچه د۳۶۴ پلان شوي دولتي دفترونو څخه ۱۶۹ دفترونه جوړ کړي دي.<br>• په قضايي ارګانونو او څارنوالیو کې د فساد په اړه راپور ورکونه دوام لري. |

| | |
|---|---|
| | • د عدلیې وزارت د عامه حقوقي پوهاوي د ودې د لارښونې لپاره د ملي پالیسۍ په جوړولو کار پیل کړ.<br><br>• د لندن په کنفرانس کې حکومت ژمنه وکړه چې د ملي عدالت پروګرام د پلي کولو لپاره خپلې هڅې زیاتې کړي تر څو ټولو افغانانو ته په مساوي توګه شفاف، عادلانه او د لاسرسي وړ عدالت تامین کړای شي. |

## II: امنیت

**معیار: د افغانستان د دوامداره امنیتي جوړښت پراختیا چې د سولې او ثبات د تامین او د افغانستان د خلکو د ساتنې توان ولري**

د پرمختګ لپاره اړتیاوو کې د افغان د ملي پولیسو/افغان ملي اردو پرسونل کې د کیفیت او کمیت زیاتوالی راوستل او په تدریجي ډول له نړیوالو ځواکونو څخه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته مسوولیت لیږد شامل دي؛ همدا راز د پخلاینې یوه دوامداره پروسه چې د افغانستان د حکومت لخوا جوړه شوې او رهبري کیږي؛ په محلي او ملي کچه د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې له فساد سره د مبارزې هڅې؛ د لارښوونې او روزنې لپاره تمویل او تخصص.

| د پرمختګ شاخصونه | ارزونې |
|---|---|
| د پولیسو او د اردو پرسونل په شمیر کې زیاتوالی چې د یوه هوکړې شوی جوړښت په مطابق لارښوونه، روزل شوي او فعاله وي | • د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کې، د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق د معاشاتو د راپور له مخې ، ۹۶۸۰۰ پولیس (بشپړ تصویب شوی شمېر) معاش اخیستل.<br><br>• د افغانستان د ملي پولیسو نږدې ۵۰ سلنه غړي لومړنۍ زده کړې ترلاسه کړې. متمرکزه پراختیایي زده کړې په ۸۰ ولسوالیو کې بشپړې شوې.<br><br>• د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې د افغان ملي اردو شمېر، چې د هدف په پرتله باید ۱۰۲۷۵۰وای، ۱۰۰۱۳۱ سرتیري وو.<br><br>• د افغان ملي اردو ټول کنډکونه نړیوال نظامي ځواکونو سره شریک دي، مګر "ګډه ملګرتیا" لا تر اوسه د امنیت او مرستندویه نړوال ځواک (ایساف) د شمال، لویدیځ او مرکزي سیمه ایزو قوماندانیو کې په بشپړه توګه نه ده تطبیق شوې. |
| د حکومت، نړیواله ټولنه او د غیر دولتي سازمانونو د افغانستان ټولو ولسوالیو پورې خوندي لاسرسي | |

| | |
|---|---|
| د پولیسو او اردو په اړه په عامه چلند او د امنیت په لور د عامه افکار په حالت کې ښه والی | • د لاسرسی کچه یو څه کمه شوې، په ځانګړي توګه هغو سیمو کې چیرې چې نوي شخړې راپورته شوي. د ۲۰۰۹ کال په ډسمبر کې نږدې ۳۰ سلنه ولسوالی په پراخه کچه بې وسلې ملکي مامورینو ته د لاسرسي وړ نه وې.<br><br>• د ۲۰۰۹ په اکتوبر کې یوه سروې چې د ملګرو ملتونو پراختیایي ادارې لخوا ترسره شوې ښودله چې ۸۲ سلنه ځواب ورکوونکي په دې باور وو چې افغان ملي پولیس د جنایاتو په کنټرول کې خورا ښه یا کافي ښه دنده ترسره کړې. خو د یوناما ساحوي دفترو ته رارسیدلي ناتایید شوي راپورونه ډیر منفي دي، او داسي شکایتونه هم راغلي چې پولیس په قاچاق، اختطاف او لوټلو کې ښکیل دي. |

## III: اقتصادي او ټولنیز پرمختګ

**معیار: د نړیوال ملاتړ څخه برخمن د دولت پالیسي چې داسي دوامداره اقتصادي ودې ته ترویج ورکړي چې په ټولیز ډول ثبات کې مرسته کوي**

د پرمختګ لپاره اړتیاوو کې د افغانستان د دوامدار پرمختګ لپاره د حکومت له خوا د تګلارو تصویبول او پلي کول شامل دي؛ د دولت له خوا طرحه شوي پروګرامونو سره د تمویل کوونکو سمون؛ حکومت سره د نړیوالي ټولنې بهتره همغږي او مربوط ملاتړ او د مرستو د اغیزمنتوب اصولو ته غاړه ایښودل؛ او د د تمویل کوونکو له خوا د اوږد مهالي مرستې ژمنتیا.

| د پرمختګ شاخصونه | ارزونې |
|---|---|
| ښه طرحه شوي ملي پروګرامونه، په ځانګړي توګه لومړیتوب لرروونکو برخو کې لکه کرنه، ظرفیت لوړول، لوړې/ مسلکي زده کړې، د خصوصي سکتور پراختیا او زیربناوو | • د لومړیتوب په ټولو برخو کې ملي پروګرامونه جوړ شوي دي. حکومت د لوړو زده کړو لپاره ملي استراتیژي پیل کړه چې موخه یې په راتلونکو پنځو کلونو کې د پوهنتون د څوکیو شمیر دوه برابره کول دی. دغه استراتیژي د بسپنه ورکوونکو د ملاتړ په تمه ده.<br><br>• د تګلارې د سلا مشورې او د تمویل کونکو د همغږي لپاره د پلیټ فارم په حیث د پوهنې وزارت او تمویل کوونکي په مرسته د ښوونې او روزنې د پراختیا بورډ تاسیس شو.<br><br>• د ۲۰۱۰-۲۰۱۴ لپاره د زده کړې ملي ستراتیژیک پلان، د سواد زده کړې ملي عمل پلان او د ۲۰۱۰-۲۰۱۴ لپاره د لوړو زده کړو ملي ستراتیژیک پلان جوړ شو.<br><br>• د کرنې د پراختیا ملي چوکاټ چې د حکومت لخوا طرحه شوی، د لومړیتوب پنځه نوښتونه پیل کړي: (ا) د کرلو لپاره د غنمو سمدستي پیرود؛ |

(ب) د کرنې لپاره د ځمکې اجاره؛ (ج) کریډیټ / پورورکولو ته لاسرسی؛ (د) د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې ښه مدیریت او اصلاحات، او (هـ) په هدفمندو ولسوالیو کې د کوکنارو د کښت د کمولو په موخه جامع کرهنیز او د کليو پراختیا اسانتیا.

- د افغان ملکي کارکوونکو د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې د پنځو عامو وظیفو په اړه یو معیاري نصاب د حکومت لخوا طرح او پلي کول یې پیل شو.

- د یوناما او تمویل کوونکو سره په همغږي، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت په اقتصاد کې د تولیدي پانګونې د زیاتوالی لپاره سکتوري لومړیتوبونه په نښه او د پروګرامونو طرحه یې پیل کړه.

د افغانستان د ملي پراختیا استراتیژي او د حکومت لومړیتوبونه سره په سمون د مرستو فیصدي زیاتوالی

- لکه څنګه چې د بودیجې څخه بهر د مرستې د تخصیص کوم روښانه انځور شتون نلري، د ستراتیژي تر شا د سمون کچه ونه ټاکل شو. د مالیې وزارت د بسپنه ورکوونکو په سمون کې د لږ زیاتوالي راپور ورکړی او له نړیوالې ټولنې یې وغوښتل چې په راتلونکو دوو کلونو کې د ملي بودیجې له لارې د پراختیایي مرستو تناسب ۵۰ سلنې ته لوړه کړي.

- د آیساف د افغانستان د ثبات د انځور ډیټابیس د مالیې وزارت لخوا چمتو کیږي، مګر د پراختیایي مرستو په ډیټابیس کې نه دی مدغم شوی. د ۲۰۱۰ په پیل کې به د افغانستان د ثبات د انځور ډیټابیس پر ځای نوي سیسټم ځای په ځای شي.

په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستو او د حکومت د لګښتونو مساوایانه ویش

- بسپنه ورکوونکو دومره معلومات نه دي ورکړي چې دا ممکنه وګرځوي چې په ټول افغانستان کې په سمه توګه له جغرافیایي پلوه د مرستو د ویش ارزونه وشي. د پرمختیایي مرستو د ډیټابیس معیار لوړ شوی تر څو د دې ډول معلوماتو لاس ته راوړلو ورتیا زیاته شي.

د افغان سرچینو پر بنسټ د ډیر زیات عوایدو راټولول او دوامداره وده

- اوس مهال د بسپنه ورکوونکو معلومات ښيي چې مرستې په عمده توګه سویل او جنوب ختیځو ولایتو ته لیږدول کیږي.

- د مالیې وزارت په وینا، په تیرو شپږو میاشتو کې د حکومتي عوایدو په راټولولو کې ۶۵ سلنه زیاتوالی راغلی.

د نړیوالو له خوا په محلي کچه د اجناسو او خدماتو په رانیولو کې فیصدی زیاتوالی

| | |
|---|---|
| په مستقیمه بهرنۍ پانګونه کې زیاتوالی | • د پیسو نړیوال صندوق (آی ام اف) په وینا، په ۲۰۰۹ کې اقتصادي فعالیت ۱۵ سلنه ډیر شوی. په ناخالص کورني تولید کې حقیقي وده دوام لري او اټکل کیږي چې په اوسط ډول هر کال ۷ سلنه زیاتوالی ومومي. |
| په سیمه ییزه کچه د پرمختګ زیاتوالی | • د نړیوالې ټولنې د راپور له مخې د ۲۰۰۹ د جون میاشت څخه د ۲۰۱۰ د جنوري میاشت پورې، د تېر کال د همدې مودې په پرتله په محلي کچه تدارکاتو کې ۶۱ سلنه زیاتوالی راغلی. |
| د هغه کورنیو په فیصدي کې کمښت چې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي | • د پیسو نړیوال صندوق (آی ام اف) په وینا، په افغانستان کې مستقیمه بهرني پانګونه له ۲۰۰۶ راهیسې په کال کې له۲ څخه تر ۳ سلنې پورې لوړیږي او په ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ کې د ۳۰۰ میلیونو ډالرو لوړې کچې ته ورسیده. د ۲۰۰۹ / ۲۰۱۰ لپاره نږدې له ۱ څخه تر ۲ سلنې پورې کمښت اټکل شوی. |
| | • د مالیې وزارت د هڅو سره سره د ولایت په کچه پرمختیایي پلانونه د مرکزي حکومت په بودیجه کې نه منعکس کیږي او ولایاتو ته بسپنه نه ده تخصیص شوی. |
| | • په اقتصاد وزارت کې د ظرفیت د نشتوالي له امله، حکومت نه دی توانیدلی چې د سیمه ایزو عاملینو لخوا د ترسره شویو پرمختیایي فعالیتونو سمون ارزونه وکړي. |
| | • د ملي خطر او زیانمنتیا د ۲۰۰۷ / ۲۰۰۸ د ارزونې له مخې چې په ۲۰۰۹ کې خپره شوې او دا ډول تر ټولو وروستی راپور دی - 36 سلنه افغانان د بې وزلۍ ملي کرښې لاندې ژوند کوي (في کس میاشتنۍ نږدې ۱۴ ډالر). دا د تیرې سروې په پرتله چې د ۲۰۰۵ ارقام ثبت کړي او په ۲۰۰۷ کې خپاره شوي د ۶ په سلو کمښت څرګندوي. |

## ۷: بشري حقونه

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوال قانون سره په سمون د افغانانو بشري حقونو ته درناوي کې ښه والی، په ځانګړي ډول د ملکي وګړو ساتنه، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان ازادي او د قانون د حاکمیت پر بنسټ حساب ورکونه.**

د پرمختګ لپاره اړتیاوو کې د نړیوال بشردوستانه او بشري حقونو قانون ته د غاړه ایښودلو دوامداره لیوالتیا؛ همدا راز په ټول هیواد کې خپلواک او اغیزمن پولیس، قضایي او د جزا سیستم؛ د مرکزي او سیمه ییزو حکومتونه له خوا د افغانستان پرحقوقي او اساسي اصولو عمل؛ د روزنې، ظرفیت جوړونې او زیربناوو لپاره او د مدني ټولنې لپاره د مناسبې بودیجې تخصیص شامل دي.

| د پرمختګ شاخصونه | ارزونې |
|---|---|
| د ملکي وګړو په وړاندې د زور غیرقانوني استعمال او اړوندو ګواښونو د پیښو په شمیر کې کمښت، او د اړوندو عاملینو له خوا د نړیوال قانون د تطبیق له لارې پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې د اغیز کمول | • له ۲۰۰۱ راهیسې ، په ۲۰۰۹ کال کې تر ټولو زیات ملکي وګړو تلفات رامنځ ته شوي وو: ۲۴۱۲ ملکي وګړي وژل شوي، چې د ۲۰۰۸ کال په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښيي. په دغو تلفاتو کې د۱۶۳۰ کسانو (۶۷ سلنه) مرګ د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، ۵۹۶ دولت پلوو ځواکونو ته او د پاتې ۱۸۶ کسانو تلفاتو لامل ډلې نه دي معلومې شوي.<br>• پر ملکي وګړو د خپلو عملیاتو د اغیزې د کمولو لپاره د نړیوال نظامي ځواکونو د اقداماتو له کبله په هغو ثبت شویو ملکي تلفاتو کې ۲۸ سلنه کموالی راغلی کوم چې د ۲۰۰۹ کال په ترڅ کې حکومت پلوو ځواکونو ته منسوب شوي دي. |
| د افغانانو لخوا د خپلو حقونو او د حکومت لخوا د خپلو مکلفیتونو په اړه پوهاوي کې ښه والی راتلل | • نظارت او وکالت د جګړې ښکیلو خواو کې نړیوال بشري حقوق او نړیوال بشردوستانه قانون ته درناوي د اړتیا پوهاوي زیاته کړه او د ملکي تلفاتو د شمیر کمولو پر ټګلارو اغیز وکړه. د ایساف سره د ملکي تلفاتو د څارنې څانګې سره اړیکه پیاوړې شوه.<br>• د ښځو په وړاندې د تبعیض، انتقالي عدالت او د سیاسي مشارکت حق په اړه پوهاوي ته د ګډو هڅو له لارې وده ورکړل شوه تر څو د افغان همکارانو د وکالت مهارتونه پیاوړي کړای شي.<br>• د اهل تشیع قانون باندې بحث د ښځو د حقونو په اړه د لا زیات پوهاوي کې مرسته وکړه. |
| د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د اقداماتو (د حقوقي او پالیسي اصلاحاتو په شمول) ښه اغیزه او ملاتړ | • د ټاکنو د څارنې تمرین اړوند درې عامه راپورونه د آزاد او عادلانه ټاکنو د اړتیا په اړه پوهاوي زیاته کړه. |
| د معافیت او د انتقالي عدالت د اجنډا او همدارنګه د بیان د ازادۍ په اړه د اقداماتو (د حقوقي او پالیسي اصلاحاتو په شمول) پوهاوي او ملاتړ | • د اهل تشیع قانون باندې بحث د د اړونده برخه والو ترمنځ د لا نړدې کاري اړیکو لامل شو.<br>• د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو د قانون د پیاوړتیا لپاره وړاندیز شوي تعدیلات په رسمي توګه پارلماني کمیسیون ته وړاندې شول. |

| | |
|---|---|
| | • مدني ټولنه د انتقالي عدالت د همغږۍ ډلې د رامنځته کولو لپاره متحرک کړای شوه. |
| | • د رسنیو سازمانونو د بیان د ازادۍ د ساتنې لپاره د میکانیزمونو د پیاوړتیا لپاره په یوه ګډ پلیټ فارم (د کابل اعلامیه) موافقه وکړه. |
| د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونو په اړه د حکومت د راپور ورکونې د اړتیاوو بشپړول او د افغانستان په اړه د بشري حقونو شورا نړیواله دوره یي کتنې د سپارښتنو تطبیق | • د ۲۰۱۰ په جنوري کې، دا خبره راپورته شوه چې د عامه ښښې او ملي ثبات قانون چې د پخواني جدي جرمونوعاملینو ته معافیت ورکوي، په ۲۰۰۸ کې په رسمي جریده کې ثبت شوی. |
| | • د بشري حقونو نړیوالو معیارونو سره سم د راپور ورکولو اړتیاو پوره کولو په برخه کې یوناما له حکومت سره کار ته دوام ورکړ. |
| | • حکومت د بشري حقونو شورا نړیواله دوره یي بیاکتنې میکانیزم په چوکاټ کې راپور ورکړی او د نړیوال میثاق تر لاندې د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو د په اړه د خپل مکلفیتونه د تطبیق په برخه کې پرمختګونه وځیړل. |
| د افغانانو، د بشری حقونو خپلواکه کمیسیون، رسنۍ او مدني ټولنې په ملاتړ د بشري حقونو د درناوي، ساتنې او پوره کولو کې د افغانانو او نړیوال عاملین، او په عمده توګه د دولت ظرفیت کې ښه والی راغلی دی | • د ۲۰۰۹ کال په اګست میاشت کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ماشوم د حقونو د کنوانسیون په اړه خپل لومړنی راپور خپور کړ. |
| | • د خپل سر توقیف د حل او همدارنګه د عادلانه محاکمې تضمین پلي کولو کې د عدلي سکتور د ظرفیت په اړه پرمختګ شوی دی. |
| | • یوناما د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون لارښوونې او د اقتصادي او ټولنیزو حقوقو په ترلاسه کولو کې د یاد کمیسیون د ارزونې د ظرفیت د پراختیا لپاره خپل ملاتړ ته دوام ورکړ. |
| | • په کابل کې د عدلیې په وزارت کې د بشري حقونو د ملاتړ اداره جوړه شوې تر څو د بشري حقونو په برخه نورو وزارتو کې د حکومت مکلفیتونه په عادي جریان کې وساتي. |

## ۷: د مخدره موادو پر ضد مبارزه

## معيار: د کوکنارو په کرکیله، د مخدره توکو په تولید او په مخدره توکو روږدیتوب په کمولو کې دوامداره تمایل

د پرمختګ لپاره اړتیاوو کې د بدیل معیشت او د جرمونو او مخدره توکو پورې اړوند فساد سره د مبارزې لپاره اغیزمن پروګرامونه؛ د مخنیوی او د قاچاق ضد هڅو په شمول د افغانستان د حکومت او د ګاونډیو هیوادونو ترمنځ بهتره همغږي؛ د افغانستان حکومت او نړیوال امنیتي ځواکونو تر منځ ښه همغږي شامل دي.

| د پرمختګ شاخصونه | ارزونې |
| --- | --- |
| د کوکنارو په کښت او د مخدره موادو په تولید کې کموالی | • په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د کوکنارو کښت ۲۲ سلنه لږ شوی یعني د ۱۵۷۰۰۰ هکتارو څخه ۱۲۳۰۰۰ هکتارو ته راټیټ شوی. |
| | • په ۲۰۰۹ کال کې د ننګرهار، بدخشان، کندهار، دای کندي، بادغیس او هرات ولایتونو کې د کوکنارو تر کښت لاندې ساحه ۱۱۵۰۰ هکتاره زیاته شوې ده. |
| په هغو سیمو کې، کوم چې پخوا د کوکنارو د کښت لپاره کارول کیدې په قانوني کرنه او اړوند خصوصي پانګه اچونه کې زیاتوالی | • په ۲۰۰۹ کال کې له کوکنارو پاک ولایتونو شمیر له ۱۸ څخه ۲۰ ته پورته شو. |
| د روږدو کسانو په شمېر کې کموالی | • په ۲۰۰۹ کې، دا اټکل شوې وه چې په افغانستان کې د ۲۴۵۲۰۰ څخه زیات کورني د کوکنارو په ناقانونه کښت بوختې وې. دغه شمیر په ۲۰۰۸ کې ۳۶۶۵۰۰ کورنۍ وو. |
| د ایساف له لارې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ په شمول په اغیزمن ډول مخنیوي او د قاچاق ضد هڅو کې زیاتوالی | • د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر د ۲۰۰۵ د مخدره توکو کارولو ملي سروې پایلې ښیي چې په افغانستان کې د روږدو کسانو شمېر ۹۲۰۰۰۰ اټکل کیږي چې په کې د ۱۲۰۰۰۰ ښځینه او ۱۹۰۰۰ کسان هغه دي چې د پیچکارۍ په ذریعه نشه یي توکي کاروي. دا محتاطانه اټکلونه دي. |
| | • په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د مخدره موادو پر ضد د مبارزې پولیسو له ۳۶.۵ ټنو څخه زیات تریاک، ۵ ټنه هیروین او مورفین، ۱۳.۸ ټنه چرس او په مخدره توکو کې کاریدونکي ۲۸۹۱۰ لیټره کیمیاوي مواد نیولي دي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د پولیسو د ښه والی او د نړیوالو همکارانو د فعال حضور له امله د مخدره توکو په نیولو کې په ډراماتیک ډول زیاتوالی راغلی دی، خو دا د نړیوالې کچې په پرتله یوازې ۲ سلنه ده، چې ډیر ټیټ بلل کیږي. |